

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



په مینه کې هیڅ مه شرمیږې؟

**د زړه خبرې مو مه پټوئ!**

**ځکه چې په ویلو یې فیصلې،او په نهٔ ویلو**

**یې فاصلې رامنځته کیږي.**

**نو ټول عمر به ځانته ملامت وي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پیل

کلیواله ژوند مو وه نوی له دولسم ټولګی څخه فارغ شوی وم د کانکور امادګی سره می نور کورسونه هم تعقیبول له اوله می له شعر شاعری او پښتو ادبیاتو سره ډیره علاقه او شوق وه او غوښتل می چی په پښتو ادبیاتو کی ښه مخکی ولاړ شم حتا تر ماسټری دوری پوری او د مکتب له دوری می ځینی خایسته او ښکلی لیکنی او شاعری لیکنی کړی وی.

خو بل اخیره د کانکور له ازموینی وروسته د خپلی خوښي پوهنځی د کابل پوهنتون ادبیاتو پوهنځي پښتو څانګی ته بریالی شوم.

د پوهنتون له شروع کیدو دوه ورځی مخکی زه کابل ته ددی لپاره ولاړم چی خپل د لیلی کار خلاص کړم ځکه چی موږ څوک په کابل کی نه درلودل دوه ورځي می هم په هوټل کی تیری کړی چی ترڅو ټول کارونه می خلاص کړم. په لمړیو ورځو کی په ټولګی کې لږ نفر وو خو د ورځو په تیریدو سره نفر نور هم زیاتیدل ځینی تند خویه استاذان به لا ځینی وخت زیات وخت په غصه کیدل چی دا محصلین ولی نه پوره کیږی په حاضری کی نومونه زیات دی او نفر په ټولګی کی لږ دی. تقریباً یوه دوه د سر هفتی همداسی په ټوکو ټکالو او لږ درس ویلو تیری شوی. د دریمی هفتی په لمړی ورځ ټولګی ته یوه ښنتنه پیغله راننوتله ټولو ویل چی دغه ده هوسی هم کمه وه او دا ده راغله خو دی هم ولاړه او د نورو انجونو سره یو ځای په ټولګی کی کیناستله داسی خاص پام می نشو ورته چی څنګه انجلی ده خو بیرون یی ټولی پوهنځی د ښایست او کمال صفتونه کول چی

(c) ketabton.com: The Digital Library



هوسی داسی ده هوسی هغه رقم ده زما هم زړه کی داسی غوټه پیدا شوه چی اوس خو یی حتماً لیدل له نژدی پکار دی.

بله ورځ د هوسی د لیدو په طمع وم چی وی ګورم او له نژدی ورسره روغبړ وکړم بل اخیره هوسی سره مخ شوم په واقیعت هم چی هوسی د ښوارلسمی سپوږمی په شان خایسته او ثانی یی نه درلوده خو د هوسی په لیدو زما له پښو هم ساه ولاړه ځکه چی په لیدو یی ډیر ورخطا شوم او شرم می راغی چی زه یو ساده کلیوال هلک یم او هغه د خایست ښاپیری ده څنګه به ورسره مخ شم او زما سلام به واخلی کنه هیڅ می هم ونه ویل.

د وخت په تیریدو سره می هوسی ته هیڅ هم نشو ویلی خو یواځی په پوهنتون کی می ښه څارله او په احوال به یی خبریدم او په خوله می ورته هیڅ هم نشو ویلی هوسی ډیره ارامه او عاجزه انجلی وه په ټولګی کی خو پریږده چی په ټوله پوهنځی کی به یی له چاسره خبری هم نه کولی او نه به یی له چاسره کار لره خپلو درسونو ته به راتله او بیرته به په خپله لاره تلله فقط یوه نژدی ملګری یی درلوده په ټولګی کی چی مریم نومیده او له هغی سره به ډیره ښکته پورته کیده.

د پوهنځي ټول هلکان ورته ګوته په غاښ ول چی هوسی به د چا په نصیب کی وی ځکه چی هوسی په ښایست کی ثانی نه لرله حتا نورو انجونو یی هم د ښایست صفتونه کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څه ځنډ وروسته د ټولګی تیستونه په شروع کیدو ول په ټولګی کی لمړنی شخص زه وم چی غیرحاضری می نه کوله او له لمړی ورځی په ټولګی کی وم ماسره ټول نوټونه ول دی په حاضری کی کتلی ول چی څوک ډیر حاضر دی نو د هغه نوټونه هم پوره دی د تفریح په وخت کی یی راته له شا طرفه غږ وکړ حک هیران شوم چی زما نوم د انجلی په خوله څه کوی شاته ګورم هوسی ده ااااوه داسی سوړ اسویلی می وویست فکر می وکړی لکه چی لیدلی یی یم چی کله ناکله یی د پوهنتون په انګړ کی څارم له پښو می ځمکه وتښتیده او هغه هم زما طرف ته نژدی راروانه وه چی نژدی شوه سلام یی واچوه ما یی هم سلام په ورخطایی واخیست ما بل فکر کړی وه خو له روغبړ او احوال پرسی وروسته یی راته وویل چی ستا نوټونه می پکار دی یوه ورځ یی له ځان سره وړم خپلو کتابچو ته یی رسوم او بیرته یی درته راوړم ما ورته بهانه وکړه چی زما نوټونه هم پوره نه دی زه یی پوره کړم بیا به یی درکړم. زما د ادرس پوښتنه یی وکړه ما ورته وویل چی همدلته په لیلیه کی اوسیږم زه له بل ولایت څخه راغلی یم وی ویل سمه ده بیا خو لری نه یی کوم بل وخت به یی راکړی خو وی ویل چی له ټسټونو یی مخکی ورسوی ورته می وویل سمه ده.

خو زموږ د ملګرتیا او بلدتیا لامل زما نوټونه شول یوبل سره ښه ملګری شو موږ به تل د پوهنتون په انګړ کی جوړه ګرځیدو زه هوسی او مریم. خو هوسی چی له کومی ورځی ما لیدلی وه زړه می پری بایللی وه هیڅ جرأت می ځان کی نشو پیدا کولی چی هوسی ته د خپلی مینی اظهار وکړم هیڅ کومه بله لاره می ذهن ته نه راتله هر شپه به می لیلیه کی پخپل اطاق کی پدی اړه فکر کوه چی زه هوسی ته د خپلی مینی اظهار څنګه وکړم بل اخیره د ډیر فکر کولو وروسته می وغوښتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې هوسی ته د خپلې مینی اظهار په خپله نوی شعری ټولګه کی وکړم او د مینی اظهار می ورته د شعر په الفاظو کی بیان او ښکاره کړم.

او همداسی می وکړل څه ځنډ ورسته یی زما، له چاپه نوې راوتلې شعري ټولګه یې په لاس کې وه. په شونډو یې تبسم ناست وه؛ رانږدې شوه. په جذباتي انداز یې راته وویل: څه ښه شاعري دې کړې ده. کتاب ته یې اشاره وکړه:دومره ښایسته شاعری دی کړی چی زه خو یې اوس له ځانه لرې کولای نه شم. هغه لګیا وه زما د شاعرۍ صفتونه یې کول او ما له شرمه ورکتلی نه شول. ځکه چې ټوله شاعري مې هغې ته کړې وه.

یوازې مې یې نوم نه وه اخیستی؛ نور مې یې ټولې نښې ویلې وې. د هغې څېره، د هغې خویونه، د هغې د وېښتانو او سترګو رنګ،د هغی ناز او نزاکت، د هغی خوی او خصلت دا چې هغه راسره په یوه انګړ، یوه خونه (ټولګي) کې ده او ... هر څه مې په نظمونو کې راغلي و. یوازې مننه مې ترې وکړه؛ نور مې هېڅ ونه ویل. هغه راسره په یوه ټولګي کې وه. داسې مې احساسول چې ټول صنف راباندې پوهېږي. له هغه وروسته مې داسې ګڼل؛ لکه مینه مې چې ورته اظهار کړې وي. هڅه مې کوله چې ورسره مخامخ نه شم.

خو؛ د ورځو په تېرېدو سره پوه شوم چې هغه په هېڅ پوه شوې نه ده. حیران شوم؛ ځان نه به مې پوښتنه کوله: هغه رښتیا په هېڅ نه پوهېږي؟ د هرې ورځې په تېرېدو مې یقین زیاتېده چې هغې حتی شک هم راباندې نه و کړی. چی زه یی د مینی لیونی یم او د زړه له تله یی غواړم. زه به نور ورسره له ډېره شرمه نه مخ کیدم ځکه چی ویردلم ما فکر کوه چی هوسی به نوره په هرڅه پوهه شوی وی. هوسۍ په ټوله پوهنځي کې تر ټولو ښکلې وه. هغه به (مریم) سره تل یو ځای ګرځېده. کله به چې نورو هلکانو ورکتل، زما به سخته رخه کېده. غوښتل مې چی په ښکاره او مخامخ ورته ووایم چې مینه ورسره لرم؛ خو، زه یو کلیوال

(c) ketabton.com: The Digital Library



هلک وم او د دې کار تمه راته سخته وه. د شعر په ژبه مې هر څه ورته ويلي و، مګر هغې ځان زما د شعرونو مخاطب ونه ګاڼه.

کله به چې تفريح شوه؛ هغه به ما سره ولاړه وه. غوښتل به يې چې زه ورسره خبرې وکړم؛ خو، ما نه به الفاظ ورک شول. هغه به تل راته ټينګه وه چې مسافر يې؛ که کوم څه ته دې ضرورت وي، ماته يې وايه. خيرنې جامې دې راوړه چې کور کې يې درته ومينځم. ماته يې دې خبرې سخت خوند راکاوه. د نورو همصنفيانو به مې رخه کېده چې هوسۍ ولې ما سره درېږي، ولی ماسره خبرې کوي.

هغې به لکچر نه ليکه؛ د رخصتۍ په وخت کې به يې کتابچې ماته راکړې، راته ويل به يې: ليکلی نوټ دې دلته هم وليکه. زړه مې ډېر غوښتل چې په کتابچه کې يې د خپل زړه خبرې وليکم؛ مګر کله مې جرئت ونه شو کړای. يوه ورځ يې له مانه کتابچه يوړه چې لکچر ترې وليکي؛ زړه کې مې ويل: کاشکې راته وليکي چې مينه درسره لرم. کتابچه يې چې سبا راوړه؛ ژر، ژر مې ولټوله. څه مې په کې ونه موندل.

آخر مې زړه تنګ شو؛ يوه لنډه کيسه مې وليکله. په هغه داستان کې مې ټوله خپله کيسه وليکله. يوازې د کرکټرونو نومونه په کې بدل و؛ نور نو زه وم او هوسۍ وه. کيسه په ډېوه مجله کې چاپ شوه. همصنفي مې (جاوېد) کيسه لوستې وه؛ راته يې وويل: هسې تاسې په ساده کليوالو مشهور ياست؛ ټول پساتونه په تاسې کې دي. هغه غوښتل چې نور څه ووايي؛ په دې وخت کې هوسۍ له اخوا راغله. جاوېد سر وښوراوه، سترګک يې راته وواهه او لاړ. کتل مې چې د هوسۍ په لاس کې هم هماغه مجله ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو چې هغه تر ما رارسېده، په ما خولې راماتې وې. د هغې خوله هماغسې له خندا ډکه وه؛ راته يې وويل: هې د خدای بنده! ما فکر کاوه چې يوازې د شعر ليکلو استعداد لرې، دا دې څومره ښکلی داستان ليکلی دی؟! ته واقعاً عالي يې.
راته يې کړل: په کيسه کې مې په هلک زړه خوږېږي او د نجلۍ ساده ګي جالبه ده. خو؛ کاشکې هلک نجلۍ ته ويلي وای. بيا يې اسوېلی واېست: نه، کيسه همداسې طبيعي ښکاري. د تقدير فيصله به همداسې وي.

هغې غوښتل نور څه ووايي؛ خو، استاد ټولګي ته ننوت او مونږ هم ورپسې ورغلو. دا ځل مې نو فکر وکړ چې خبره ورته واضح وه. اوس نو په هر څه پوهه شوې ده. خو؛ وروستيو جملو يې خواشينی کړم. دا چې (( کيسه همداسې طبيعي ښکاري يا د تقدير فيصله به همداسې وي)).

منتظر پاتې شوم چې څه غبرګون ښايي؛ کتل مې چې هماغه پخوانی حالت يې دی. هغې ته زما کيسه، هسې کيسه ـ ژوند وي او يا هم د ښارونو فاصله...
يو ځل مې تصميم ونيوه چې مخامخ ورته ووايم؛ خو، بيا مې فکر وکړ: که ورته ووايم هم، اظهار به مې ورته شعر يا داستان ښکاره شي. نو؛ نه ويل يې ښه دي.

ژمی نږدې شو. آزموينې مو تېرې شوې. ټول رخصت شو او خپلو کورونو ته لاړو.

زمونږ ولسوالۍ ته لا د ګرځنده ټېليفونونو آنتنونه نه وو رارسېدلي. ټوله رخصتۍ کې مې کوم همصنفي سره اړيکه نه درلوده. هوسۍ پسې خپه شوی وم؛ خو، هغه حالت يې ناهيلی کړی وم. درې مياشتې مې په همدې فکر وکړ؛ څه وکړم چې هغه مې احساسات جدي ونيسي او درک مې کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رخصتي چې تېره شوه؛ لیلیې ته راغلو.

د تحصیلي کال لومړی ورځ وه؛ ټولګي ته ناوخته ورسېدم. ټولګي وال مو (قاري همایون) لګیا وه د قرآنکریم آیاتونه یې تلاوت کول. زه هم لاړم په نوي ټولګي کې مې په آخرې ځای کی یوه څوکۍ غوره کړه. کله چې لاسونه پورته شول؛ استاد وویل: د هغې مرګ واقعاً زمونږ زړونه مات کړل. هغه هوښیاره، مؤدبه او لایقه انجلی وه. پام مې شو چې همصنفیانې مو ژاړي؛ خو، د مریم آواز په ټولو کې لوړ دی. د استاد دې جملې دنیا راباندې وګرځوله: خدای ج دې هوسۍ ته د هغې د صورت او سیرت په څېر جنت ورپه برخه کړي، آمین یا رب العالمین.

باور مې نه راته؛ د مریم په څنګ څوکۍ کې یې تازه ګلان ایښي وو. هوسۍ مړه ده.

د دې خبر په اورېدو مې نږدې زړه درېدلی وو

هوسۍ مړه شوې وه؛ تر رخصتیو یوه میاشت وروسته یې ساه ورکړې وه.
وروسته معلومه شوه چې هغې دکورناری وژونکی ناروغی درلوده.

چې ژوندۍ وه نه پوهېدم چې د ژوند او د هستۍ ټول رنګونه می د هغې په وجود کې راټول وو. نور نو ټولګی بدرنګه وو، پوهنتون زړه نیونکی او ژوند ډېر پیکه شو.

رو، رو مې احساس کړه چې زده کړو ته دوام نه شم ورکولای. هر څه مې پرېښودل او کلي ته لاړم. کتل مې چې هلته ګوزاره لا سخته ده؛ پوهنتون کې خو یې لا خاطرې شته دي، بل ځای هېڅ ګوزاره نه کیږي. بېرته راغلم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ مو چې د ورځې وروستی درسي ساعت ختم شو، مريم راته د ډېوې مجلې يوه ګڼه راکړه. راته يې وويل: په دې کې يو څه دي، هغه ولوله.

غوښتل مې مجله پرانيزم، مريم راته وويل: دلته نه، په خپل اطاق کې يې په آرامه وګوره.

ورته مې وويل: سمه ده. هغه مې د کتابچو منځکې کېښوده او ليليې ته لاړم. د پنجشنبې ورځ وه. د اطاق ملګري به مې د جمعې په شپه هميشه د خپلوانو کورونو ته ورتلل؛ خو، زما په کابل کې څوک نه ول. په دې شپه به خونه کې يوازې وم. د خوب وخت کې مې د مريم راکړل شوي مجله را ياده شوه. د مجلې عنوانونه مې کتل چې د يوې لنډې کيسې سرليک مې ومونډ:

★~د ميني اظهار...~★

د کيسې ليکواله (هوسۍ اوښکه) وه.

له دې چې د ليکوالې نوم راته خاص و، د کيسې په لوستلو مې شروع وکړه. کتل مې چې کيسه ټوله زمونږ وه؛ يوازې د کرکټرونو نومونه بدل دي. هماغسې نجلۍ او هلک همصنفيان دي. هلک شاعر او ليکوال دی. د هغه ټوله شاعري د نجلۍ لپاره ده او کيسو کې يې هم هغه ده؛ خو، نجلۍ ځان نه پرې پوه کوي.

د دې لپاره چې ډاکټرانو ورته ويلي د (کرونری) وژونکې ناروغي لري او يو کال عمر کول دې سخت دي. انجلۍ پوهنتون ته يوازې او يوازې د هلک ليدو لپاره ځي؛ په انجلۍ باندې د هغې يوې همصنفۍ نه بغير، بل څوک خبر نه دي. يو ځای کې يې ليکلي و چې؛ يوه ورځ مې تري کتابچه د لکچر ليکلو په بهانه واخيسته. زړه مې ډېر تنګ شوی و؛ غوښتل مې هر څه ورته د هغه په کتابچه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې ولیکم. د خپلې مینې کیسه، د خپلې بېوسۍ او ناروغۍ راز... همداسې مې وکړل؛ د شپې تر نیمایي ویښه وم، هر څه مې ورته ولیکل. خو؛ سهار پښېمانه شوم. که مې هغه ته خپله مینه اظهار کړې او د خپل لنډ عمر ورته ووایم؛ هغه به یې زغملی ونه شي. له کتابچې نه مې یې بیرته هغه پاڼې وشکولې.

کیسه مې چې تر دې ځایه ولوسته؛ شک مې یقین ته نږدې شو. خو؛ په ټولګي کې مو د هوسۍ تخلص اوښکه نه وه، هغې د خپل پلار نوم (صابر) د تخلص په توګه کاروه. بل دا چې کیسه داسې لیکل شوې وه؛ لکه یو پوخ لیکوال چې لیکلې وي. آیا هوسۍ داسې لیکواله هم وه؟ ما به مې خپل پخوانې نوټونه ځان سره ساتل.

په منډه او ځنګیدلو قدمونو مې الماری ته منډه کړه او الماری مې خلاصه کړه؛ خپلې پروسګنې کتابچې مې وکتلې، هغه کتابچه مې ومونده. په کیسه کې لیکل شوې نښه مې ومونده؛ د کتابچې پینځه پاڼې شکول شوې وې. د کیسې لیکواله هغه هوسۍ وه. زړه مې یو ځل راډک شو. د کیسې آخره جمله مې ولوسته:

مرګ سخت نه دی، ټول مري؛ خو، دا چې مې له هغه نه بېلوي، ترې کرکه لرم.

ټوله شپه مې ورته وژړل. هغه په هر څه پوهېدله، زما په سترګو کې یې خپله مینه لیدله، زما د زړه درزا یې اورېده؛ خو، هېڅ یې نه ویل. هغه رښتیا صابره وه؛ خپل ځیګر یې په غاښ کړی وه او هېڅ یې نه ویل. هغه رښتیا اوښکه وه؛ د درد او غم نه جوړه شوې، د عمر په بانه ولاړه وه او آسانه د مرګ په مخ وبهېده.

د هغې مینې او وفا ته حیران شوم. سره له دې چې پوهېده، لږ وخت به ژوندۍ وي. خو، ماته به یې تل په شونډو تبسم ناست و. رښتینې مینه همدې ته وایي؛ له ځانه یې، ماته او زما راتلونکي ته ډېر فکر کړی وو. هغې رښتیا ویلي و؛ که یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه هغه مهال په خپلو احساساتو پوه کړی وم، که زمونږ منځ کې عاشقانه اړیکې واضح واې، مرګ یې زه هم وژلم. که څه لیکلې کیسې یې هغه زما په زړه کې ( تلپاتې ) کړه؛ خو، بیا مې هم په ژوند کې هغې سره یوازې فاصلې تجربه کړې او مرګ یې هم یو ډول فاصله وه؛ نو، ومې زغمه.

د شنبې ورځ چې مریم سره مخامخ شوم؛ د دواړو سترګې له اوښکو ډنډې شوې، خو هیڅ مو ونه ویل.

یوه اونۍ وروسته مې مریم نه د هغې د قبر آدرس واخېست؛ ورغلم. هغه یې د خپلو ناهیلیو سره یو ځای، ارامه ویده وه.

ورته مې وویل: مینه درسره لرم؛ د خپلې بېوسۍ د انتها په اندازه، ستا د مظلومیت او نامرادۍ تر ژورو په اندازه...

خو؛ هغې د پخوا په څېر ځان پوهه نه کړه، هیڅ یې هم ونه ویل.

إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ

پـــــــاے.😢💔

## نور ناولونه او کتابونه لپاره مه درسره تعقیب کړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهوسی
ناول

(c) ketabton.com: The Digital Library

دهوسی
ناول



**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**